شگوفه امینی

# په متحده ایالاتو او کینګ کاونټي کې
# د زده کړو نظام

King County

PORSESH POLICY RESEARCH INSTITUTE
Fact-based Analysis & Solutions

# لړلیک

پیلیزه: د متحده ایالاتو د زده کړو او روزنې په سیسټم کې د تنوع، برابرۍ او انعطاف پذیرۍ ارزونه

جوړښت: بېلابېلې سطحې (وړکتون، ښوونځی، لوړې زده کړې) او د ښوونځیو ډولونه (عمومي، خصوصي، چارټر، په کور کې زده کړې)

نوملیکنه: د نوملیکنې پروسه، د زده کوونکیو حقوق او د زده کوونکیو د ملاتړ خدمتونه

لوړې زده کړې:

کالج، پوهنتون، نوملیکنه او مالي مرستې

د مور و پلار رول:

د زده کوونکیو په درسي بریالیتوب کې د مور و پلار د رول اهمیت

پای:

یو څو مهم ټکي او د زده کړو د فرصتونو د موندلو لپاره هڅونه

# د متحده ایالاتو د زده کړو نظام



## پېژندنه:

د متحده ایالاتو د زده کړو سیسټم د تنوع،انعطاف او پر نوښتونو د تمرکز له امله يو منل شوی سیسټم دی.

- دا سیسټم په ټولو سطحو کې، د ماشومتوب له لومړيو وختونو څخه تر پرمختلليو مطالعاتو پورې فرصتونه برابروي،د زده کوونکيو بېلابېلې اړتیاوې پوره کوي او تلپاتې زده کړې رواجوي.
- کابو د دې هېواد پر ټولو ماشومانو زده کړې لازمي دي، خو دا چې يو زده کوونکی په کوم عمر کې ښوونځی پرېښودلی شي، له يو ایالت څخه بل ته توپیر لري.

91%

نیه متحده ایالاتو کې د ۲۵ کلنو او له هغو څخه د پورته وګړیو له ښوونځي څخه د فراغت سلنه په ۲۰۱۱ز کال کې له ۸۷,٦ سلنې څخه په ۲۰۲۱ز کال کې ۹۱,۱ سلنې ته لوړه شوې ده.



# په متحده ایالاتو کې د زده کړو بېلابېل ډولونه او بېلابېل ښوونځي

**دولتي/ عمومي ښوونځي**

ادا ښوونځي د سیمه ییزو، ایالتي او فدرالي مالیاتو په واسطه چلېږي. له زده کوونکیو څخه فیس نه اخیستل کېږي او د ایالت له خوا تعین شوی دسي نصاب په کې تدریسېږي..

**خصوصي ښوونځي**

ادا ښوونځي نسبت عمومي ښوونځیو ته د خصوصي پانګونې او مالي امکاناتو لله لاري چلېږي. نسبت عمومي ښوونځیو ته د ښه کیفیت لرونکي درسي پروګرامونه او له ښو او غوره ښوونیزو رویو څخه پکې ګټنه کېږي.

**کورني ښوونځي**

په دې ښوونځیو کې مور و پلار په خپلو کورونو کې د خپلو اولادونو د زده کړو مسوولیت پر غاړه اخلي،خو په دې شرط چې د ایالت د ښوونیزو اصولو پیروي به کوي.

**لیلیه ښوونځي**

ادا هغه ښوونځي دي چې زده کوونکي شپه و ورځ په ښوونځي کې دېره وي او همدلته درس هم وایي او د شپې هم پاتې کېږي.

**ځانګړي ښوونځي**

ادا ښوونځي د معلولیت لرونکیو وګړو لپاره دي چې معلولیت لرونکیو وګړیو لپاره ځانګړي ښوونیز پروګرامونه او رویې لري.






# په ښوونځیو کې د نوملیکنې پړاوونه

## لومړی پړاو

تر هر څه دمخه مور و پلار د خپلو اولادونو لپاره د خپلې استوګنې د سیمې یو مناسب ښوونځی ټاکي. له هغې وروسته بیا د خپلې استوګنې د سیمې د ښوونې له یو مسوول سره ګوري او خبرې کوي چې د خپل زوی/لور لپاره په ښوونځي کې د نوملیکنې پر شرایطو ځان پوه کړي.

## دویم پړاو:

- د اړینو اسنادو برابرول: د ماشوم د عمر د تثبیت سند لکه: تذکره، د زېږېدو سند، پاسپورټ او یا هم کوم بل معتبر سند.
- **د استوګنې د ځای د تثبیت سند: معمولاً د برېښنا بیل، د کور د کرایې قرارداد، یا هم د استوګنځي د قرضیې سند.**

## درېیم پړاو:

- **د واکسین کارت: په متحده ایالاتو کې ټول ښوونځي له مور و پلار څخه د زوی/ لور د واکسین کارت غواړي چې معلومه کړي ماشوم له زېږېدا تر دې مهاله کوم کوم واکسینونه اخیستي دي.**
- **له مور و پلار/ پالوونکي سره د اړیکې د اثبات سند: په ښوونځیو کې د نوملیکنې پر مهال پلار یا مور باید یو داسې سند هم وړاندې کړي چې له زوی/ لور سره یې د مورولۍ/ پلارولۍ او یا هم پالورنکي اړیکه ترې ثابته شي.**

## څلورم پړاو:

- **د نوملیکنې د فورمو ډکول: د نوملیکنې لپاره یو لړ فورمې باید ډکې شي چې د اړونده سیمې د پوهنې څانګې له وېبسایټ څخه (یې سافټ کاپي) او یا هم له اړونده ښوونځي څخه یې هارډ کاپي تر لاسه کولای شئ..**
- **د ډکو شویو فورمول استول: ټولې ډکې شوې فورمې او اړونده اسناد په انلاین بڼه د وېبسایټ له لارې، په فزیکي ډول د ښوونځي مدیریت ته او یا هم د پوست له لارې د اړونده سیمې د پوهنې څانګې ته استول کېږي.**

## پینځم پړاو:

- د ښوونځي د پېژندګلوی په ناسته کې ګډون: ښایي ښوونځی تاسې د پېژندګلوی یوې ناستې ته وغواړي، چې په کې به زده کوونکي او د هغوی مور و پلار د ښوونځي له ښوونکیو او اداري کارکوونکیو سره ووینږي.
- په دې ناسته کې به تاسې ډېر معلومات تر لاسه کړئ او که کومه پوښتنه لرئ، نو کولای شئ چې له اړونده ښوونکي او یا هم اداري کارمند څخه یې وکړئ، د بېلګې په توګه ستاسې د زوی/ لور د بس په اړه یا هم د غرمنۍ او ... په اړه.

## شپږم پړاو:

- ښوونځی مستقیماً تاسې ته یا هم ستاسې زوی/لور ته هغه لیست ورکوي چې ستاسې زوی/ لور ورته اړتیا لري.
- مور و پلار یا هم د ماشوم پالونکی مسوولیت لري چې خپل زوی/لور ته د ښوونځي اړین توکي لکه کتابچې، پنسلونه،بکسه، د خوړو لوښي او بکسه برابر کړي. ډېر کله دا شیان د ښوونځي له خوا هم زده کوونکیو ته ورکول کېږي، ځکه چې ښوونځی یې له عامو خلکو او بنسټونو څخه په تر لاسه شویو مرستو پېري یا یې له هغوی څخه د جنس په توګه ترلاسه کوي.

# د دولتي/ عمومي ښوونځيو ګټې

## د ښوونځي کارکوونکي او ښوونکي

- **ښوونکی:** ښوونکی په ټولګي کې ورځني تدريس مسوول دی.
- **مدير:** ښوونځی او د ښوونځي مهم مسايل مديريت کوي.
- **سلاکاران:** په ښوونځي کې موجود سلاکاران زده کوونکيو ته د زده کړو او شخصي مسايلو په اړه سلا مشوري ورکوي.
- **اداري کارکوونکي: اداري کارکوونکي معمولاً د ښوونځي اداري چارې پرمخ بيايي او له زده کوونکي يا هم د هغوی له مور و پلار سره په سوبتيا او ناسوبتيا او همدارنګه د نورو عمومي مسايلو په اړه کومک کوي.**
- **د انګليسي ژبې متخصصين:** د انګليسي ژبې دا ځانګړې متخصص ښوونکي له هغو زده کوونکيو سره د ژبې په زده کړه کې کومک کوي چې مورنۍ ژبه يې انګليسي نه وي.



| | |
|---|---|
| **شرايط** | دولتي/ عمومي ښوونځۍ د ټولو زده کوونکيو لپاره دي. د متحده ايالاتو په ټولو پنځوس ايالاتونو کې مېشت ټول ماشومان په دغو دولتي/ عمومي ښوونځيو کې د وړيا زده کړو حق لرى. |
| **د دولتي/ عمومي ښوونځي بوديجه** | مدولتي ښوونځي د ټولو زده کوونکيو لپاره وړيا دي.د دې ښوونځيو لګښتونه له سيمه ييزو مالياتو او د ايالت له بوديجې څخه ورکول کېږي. |
| **نومليکنه** | په دولتي ښوونځيو کې د بېلابېلو ژبو او فرهنګونو لرونکي ماشومان زده کړې کوي. مور و پلار بايده دي د خپلو اولادونو لپاره يو مناسب ښوونځی د خپلې استوګنې له سيمې څخه پيدا کړي. |
| **د ښوونځي لګښتونه** | مور و پلار د خپل ماشوم د ښوونځي د زده کړو د وسايلو لکه د کتاب، کتابچې او نورو مسووليت پر غاړه دی. همدارنګه له ښوونځي څخه وروسته د (هنرونو او تمرينونو) لپاره چې کوم وسايل او لباس پکارېږي، د هغوی اخيستل هم د مور و پلار مسووليت دی. |

# چارټر ښوونځی

### نوملیکنه

که چېرې یوه کورنۍ د چارټر ښوونځي د فعالیت په ساحه کې استوګنه وي، نو مور و پلار کولای شي چې په یاد ښوونځي کې د خپل ماشوم نوملیکنه وکړي.

### د چارټر ښوونځي ټولګي

دا ښوونځي له ورکتون څخه تر دولسم ټولګي پورې زده کوونکي مني.

### د چارټر ښوونځي بودیجه

د دې ښوونځیو بودیجه (لګښتونه) د مالیه ورکوونکیو له مالیې یانې د دولت له بودیجې څخه ورکول کېږي.



# په متحده ایالاتو کې خصوصي ښوونځي

### د منلو لپاره ځانګړتیاوي (معیارونه)

- په دې ښوونځیو کې منل په یو لړ ځانګړتیاوو او معیارونو پورې اړه لري.
- زیاتره وخت د شمولیت ازموینه او ښې نومرې تر لاسه کول یو بنسټیز شرط وي.
- همدارنګه انټرویو (مرکه) او ملاتړلیک/ لیکونه (ریفرینس لیټرز) هم په دې ښوونځیو کې د شمولیت لپاره اړین وي.

- خصوصي ښوونځي معمولاً د زده کوونکیو پر فیس چلېږي.
- دا ښوونځي دولتي/ عمومي بودیجه نه لري.
- کله کله ورسره خیریه بنسټونه او خیرخواه اشخاص مالي او جنسي مرستې کوي.
- ځینې خصوصي ښوونځي مالي مرستې هم لري.

### په خصوصي ښوونځیو کې درسي پروګرامونه

د دولتي ښوونځیو په پرتله خصوصي ښوونځي د خپل درسي پروګرامونو په جوړولو او بدلولو کې آزاد لاس لري.
معمولاً ټولګي په کې (د زده کوونکیو د شمېر د اندازې له مخې) کوچني او درسونه یې نسبتاً غوره وي.



# کورنی ښوونځی

## په کور کې مطالعه

- د دې ښوونځي په ترڅ کې مور و پلار د خپلو ماشومانو د تدریس و روزنې ټول مسوولیت پر غاړه اخلي.

## شرایط

- مور و پلار باید د ایالت له ښوونیزو لارښود، پالیسیو او قوانینو څخه پیروي وکړي. په دې ښوونځي کې د زده کوونکیو زده کړې شونې ده چوکاټي یا هم آزادې وي چې زیاتره وخت یکې له انلاین پروګرامونو څخه ګټه اخیستل کېږي.

- په زیاتره ایالتونو کې له مور و پلار څخه غوښتل کېږي چې په کور کې د کورني ښوونځي له پیل څخه دمخه باید د خپلې سیمې د ښوونې او روزنې اداري ته خبر ورکړي.



# په متحده ایالاتو کې د ښوونځیو او ټولګیو جوړښت

**وړکتون (له پینځه کلنۍ څخه کښته عمر لرونکیو ماشومانو لپاره)**

بنسټیزې چارې:

- رسامي
- غوړنیونه، او
- د عددونو زده کول.

**لومړنی ښوونځی له لومړي ټولګي څخه تر پینځم ټولګي پورې له پینځه کلنۍ څخه د زیات عمرلرونکیو ماشومانو لپاره**

په دې ښوونځیو کې زده کوونکي:

- لوستل و لیکل،
- د ریاضي عملیې او مهارتونه
- ژبه، او
- د ښوونځي نور درسونه زده کوي.

**منځنی ښوونځی له شپږم ټولګي څخه تر نهم ټولګي پورې، له یوولس کلنو څخه تر دیارلس کلنو ماشومانو لپاره**

په دې ښوونځي کې زده کوونکي:

- د ریاضي مسایل،
- په پرمختللې سطحه لوستل،
- علوم،
- ټولنیز مطالعات، او
- انګلیسي ژبه زده کوي.

**لیسه (له نهم ټولګي څخه تر دولسم ټولګي پورې) له څوارلس کلنو څخه تر اتلس کنو ماشومانو لپاره**

په دې ښوونځي کې زده کوونکي:

- په لړ پرمختللې سطحه ریاضي (الجبر)،
- هندسه،
- کالج او پوهنتون ته اماده ګي، او
- بیالوژي او کیمیا زده کوي.



# د مور و پلار رول

د متحده ایالاتو په ښوونیز نظام کې د زده کوونکیو د بریالیتوب لپاره د مور و پلار رول ډېر مهم دي. زده کوونکي د خپلو والدینو (مور و پلار) له خوا د زده کړو په هره سطحه کې لکه په تولګیو کې يې د ګډون، د ښوونځي په سطحه د زده کوونکیو لپاره په تشویقي پروګرامونو کې ګډون او له هغوی سره د کورنۍ دندو په تر سره کولو کې د مرستې له لارې دوی خپل هڅوونکی رول لوبوي..

## د ښوونځي د مدیریت په برخه کې رول

- له ښوونکیو سره منظمې اړیکې ساتل،
- د زده کوونکیو د پرمختګ لپاره له پرلیکه (انلاین) پروګرامونو څخه ګټنه او کارونه،
- په ښوونیزو ورکشاپونو کې ګډون

## د ښوونځي په فعالیتونو او پروګرامونو کې ونډه

- د ښوونځي لپاره د والدینو (مور و پلار) او پالونکیو د ملاتړ په غونډه کې ګډون،
- د ښوونځي په تمریناتي پروګرامونو او ننداړو کې ګډون،
- له کولتوري او تفریحي پروګرامونو څخه ملاتړ

## په تولګي کې د مور و پلار رول

- په تولګي کې په داوطلب شکل د مرستندوی په توګه ګډون،
- له ښوونکیو سره د ځینو فعالیتونو په ترسره کولو کې مرسته او همکاري،
- د ښوونیزو پروګرامونو او نورو فعالیتونو په بیا کتنه او ارزونه کې ګډون.

## په کور کې د مور و پلار رول

- د کورنۍ دندې په تر سره کولو کې مرسته،
- د منظمې مطالعې او لیکلو په برخه کې مرسته،
- په کور کې د درسونو د تکرار او زده کولو لپاره د مناسب چاپېریال برابرول.

# په دولتي ښوونځیو کې د زده کوونکیو حقونه



د عقیدې، بیان او عمل آزادي د بېلګې په توګه د
دیني لباس ټاکل او اغوستل.




د ژبې د زده کړې وړیا خدمتونه د هغو کسانو
لپاره چې مورنۍ ژبه یې انګلیسي نه وي.



پرته له دې چې د زده کوونکیو نژاد، اصلیت، معلولیت
او یا هم ټولنیز حالت په پام کې ونیسي، له ټولو سره
مساوي چلن کول.




# د ښوونځي د بس لپاره څوک په شرایطو برابر دي

د سیاټل عمومي (دولتي) ښوونځي په سیاټل کې د ښوونځیو د بسونو سیستم مدیریت کوي، او د هغو زده کوونکیو لپاره چې د واټن (فاصلې) او ځانګړیو اړتیاوو له امله پر شرایطو برابر وي، د لېږد رالېږد خدمت ارایه کوي.

## لومړني ښوونځي

- تول هغه زده کوونکي چې له ښوونځي څخه یو مایل لرې اوسېږي، د بس د لېږد و رالېږد له خدمتونو څخه برخمن کېدای شي.

## منځني ښوونځي

- تول هغه زده کوونکي چې له ښوونځي سره په دوه مایله واټن کې اوسېږي، د بس د لېږد رالېږد له خدمتونو څخه برخمن کېدای شي.

## لیسه

- معمولاً د لیسې زده کوونکي د بس د لېږد رالېږد له خدمتونو څخه نه شي برخمن کېدای، خو د بسونو د عامه ټرانسپورټ نه د ګټنې وړیا کارت تر لاسه کولای شي.

## د ځانګړیو اړتیاوو درلودونکي زده کوونکي

- د دې ډول زده کوونکیو لپاره د ښوونځیو له خوا د هغوی اړتیاوې په پام کې نیول کېږي او بیا یې اړتیاوو ته په کتو د هغوی د لېږد رالېږد خدمتونه ورته ارایه کوي.



| د ښوونځي مهالویش | | |
|---|---|---|
| لیسه | منځنۍ ښوونځی | لومړنی ښوونځی |
| د سهار له اته نیمو بجو څخه د ماسپښین تر پاو باندې دریوو بجو پورې | د سهار له اتو بجو څخه د ماسپښین تر دریوو بجو پورې | د سهار له اتو بجو څخه د ماسپښین تر دوو بجو پورې |

په هر ښوونځي کې د زده کوونکیو د تفریح (دمې) لپاره وخت هم په پام کې نیول شوی وي. د سهارنۍ د خوړلو وخت، د غرمنۍ د خوړلو وخت او د اختیاري مطالعې وخت.

مور و پلار یا هم پالونکی کولای شي چې د ښوونځي له وخت وروسته خپل اولادونه له ښوونځي څخه له ځان سره راواخلي.

دا مهالویش د ټولو ښوونځیو لپاره یو شی نه دی.



# د ښوونځي کالیزه

| نېټه | پېښه |
|---|---|
| د سپتمبر څلورمه | د ښوونځیو پیل |
| د سپتمبر نهمه | د ورکتون پیل |
| د ډسمبر له ۲۳مې څخه د جنوري تر ۴مې پورې | د ژمي رخصتي |
| د فبروري له ۱۷مې څخه تر ۲۱مې پورې | د جمهور رئیس د ورځې په شمول د ژمي د منځني رخصتي رخصتۍ |
| د اپریل له ۱۴مې څخه تر ۱۸مې پورې | پسرلنۍ رخصتي |
| د مې ۲۶مه | د میموریل (د پوځ د قربانیو د یاد) ورځ رخصتي |
| د جون ۱۸مه | د ښوونځي وروستۍ ورځ |
| د جون ۱۹مه | عمومي رخصتي د ښوونځیو د کارکوونکیو او زده کوونکیو لپاره |



# کډوال دې په لاندې ترتیب خپل اولادونو په ښوونځیو کې شامل کړي

## د نوملیکنې د پروسې بشپړتیا

- د ماشوم نوم، عمر او ادرس
- په بیړنیو حالاتو کې د اړیکې شمېره او د اړیکې پول
- د ماشوم د روغتیا تاریخچه او که چېرې ځانګړې اړتیاوې ولري د هغې ارایه کول.

## اړین اسناد

- د اوسېدا او دلته د مېشت کېدا سند
- تذکره او یا هم پاسپورټ
- د واکسینو کارټ
- که چېرې ماشوم له کوم بل ښوونځي څخه رانقلیږي، نو له هغه ښوونځي څخه د ماشوم د زده کړو سوابق

## د ښوونځي شرایط

- د سیمې د پوهنې له څانګې سره اړیکه
- ځان ډاډه کړئ چې ماشوم مو په ښوونځي کې د شمولیت عمر پوره کړی دی.

## د نورو اضافه معلوماتو تر لاسه کول

- که ماشوم مو د انګلیسي ژبې زده کړې ته ضرورت لري، نو له ښوونځي څخه وغواړئ، هر ښوونځي د ناانګلیسي ژبې ویوونکو ماشومانو لپاره د انګلیسي ژبې د زده کړې او پیاوړتیا ځانګړي پروګرامونه لري.د.
- که ماشوم مو د ځانګړې اړتیا یا اړتیاوو درلودونکی وي، د ښوونځي له مسوولینو یا هم د پوهنې څانګې له مسوولینو سره يې شریک کړئ، ستاسې ماشوم ځانګړې مرسته تر لاسه کولای شي.

## د لیږد رالیږد خدمت

- ځان ډاډه کړئ چې ماشوم مو ښوونځي ته د بس د لیږد رالیږد خدمت په شرایطو برابر دی او ګټنه ترې کولای شي.
- د نوملیکنې پروسه بشپړه کړئ.

## د سیمې د پوهنې څانګې او یا هم ښوونځي ته ورتګ

- له ښوونځي یا هم د سیمې د پوهنې له څانګې سره په اړیکه کې شئ او د خپل ماشوم نوملیکنه پیل کړئ.
- په زیاترو ښوونځیو یا هم د پوهنې په څانګو کې د ناانګلیسي ژبو ویوونکو لپاره د ژباړې خدمتونه هم موجود وي، که تاسې په انګلیسي نه پوهېږئ، نو د خپلې ژبې د ژباړې د خدمت غوښتنه وکړئ.

# کالج او پوهنتون

- د فیس ډول: د ایالت د اوسېدونکیو محصلینو لپاره لږ فیس او له ایالت څخه د بیرون اوسېدونکیو زده محصلینو لپاره لوړ فیس.
- د زده کړو بېلابېلې سطحې او پروګرامونه: په بېلابېلو ځانګو کې د لسانس، ماسترۍ او دوکتورا زده کړې.
- مدیریت: دا لوړې زده کړې د ایالت په سطحه د لوړو زده کړو ټاکل شوي پلاوي او همدارنګه د پوهنتون لپاره د ټاکل شویو ځانګړیو وفادارانو د پلاوي په واسطه مدیریت کېږي.
- ټولنیز او څېړنیز رول: زیاتره ایالتي پوهنتونونه په علمي څېړنو کې ګډون لري او په اقتصادي پراختیا او د کاري ځواک په جوړولو کې مرسته کوي.



# له ښوونځي څخه تر فراغت وروسته څنګه کالج ته نوم ولیکو؟

## په ښوونځیو کې تحصیلي سلاکاران

- لارښود سلاکاران: په ښوونځیو کې تحصیلي لارښود سلاکاران له زده کوونکیو سره مرسته کوي چې په کالج کې څنګه بېلابېلې څانګې د خپلې خوښې او علاقې له مخې وټاکي.
- څانګړې ناستې: یاد سلاکاران له زده کوونکیو سره د کالج او پوهنتونونو په انتخاب کې هم مرسته کوي.

### د کالج او کار لارښودونکي مرکزونه

- په زیاترو ښوونځیو کې د زده کوونکیو لپاره کالج ته د تللو او یا هم د کاري فرصتونو د موندلو په برخه کې لارښودونکي مرکزونه شتون لري چې له زده کوونکیو سره مرسته کوي.
- ځینې ښوونځۍ د کالجونو او پوهنتونونو استازي مشورتي غونډو، نندارتونونو او د کارموندنې غونډو ته راغواړي چې زده کوونکي ورسره مخامخ خبرې وکړي.

## سپارښتلیکونه

- په زیاترو ښوونځیو کې ښوونکي او ښوونیز سلاکاران فارغېدونکیو زده کوونکیو ته سپارښتلیکونه لیکي چې په کې د زده کوونکیو د قوت ټکي، شخصیت او لاسته راوړنې مشخصې شوي وي.





# په پوهنتونونو کې د نوملیکنې پروسه

## د محصل د نومرو غوښتنه

- زیاتره ښوونځي د زده کوونکیو نومرې پوهنتونونو ته استوي، ځکه چې په پوهنتونونو کې د ښوونځي نومرې ارایه کول یوه لامې چاره ده.
- اړینې ازموینې: په پوهنتونونو کې ځینې داسې مرکزونه شته چې د محصلینو د ACTاو SAT ازموینو لګښتونه ورکوي.

**SAT** (Scholastic Assessment Test). **ACT** (American College Testing)

## شته مالي مرستې

- زده کوونکي د ښوونځیو د سلاکارانو په مرسته د FAFSA فورمې تر لاسه کولو لپاره غوښتنه کولای شي.
- پر دې سربېره زده کوونکي کولای شي چې له پوهنتونونو او نورو خپلواکو بنسټونو څخه بورسونه هم تر لاسه کړي. .
- زده کوونکیو ته بایده دي چې له خپلو سلاکارانو سره منظمې ناستې ولري..

## د پوهنتونونو له پیل کېدا څخه دمخه ځینې پروګرامونه

- بځینې ښوونځي له سیمه ییزو کالجونو سره همکاري کوي چې له مخې یې زده کوونکیو ته دمخه تر دې چې کالج ته رسماً لاړ شي، ځینې ټولګیو (تحصیلي کریډیټونو) ګډون ورکوي، دا تحصیلي کریډیټونه چې اصلاً د پوهنتونونو برخه وي، زده کوونکي یې واردمخه بشپړوي.
- چې نه پوهېدئ، همېشه وپوښتئ: که چېرې تاسې په هره برخه کې ستونزه لرئ، د خپل ښوونځي له ښوونکي څخه، له سلاکارانو څخه، له پخوانیو زده کوونکیو څخه چې اوس په پوهنتونونو کې دي او یا هم د کالجونو او پوهنتونو د معلوماتو له ځانګې څخه وپوښتئ.

# انستیټیوټ/ کالج

## ټولنیز انستیټیوټ/ کالج څه شی دی؟

- کالج په حقیقت کې د نیمه لوړو زده کړو موسسه ده چې دوه کلن تحصیلي پروګرامونه د کارپوه سند په ورکولو سره زده کوونکي روزي. دا موسسه په تخصصي برخو کې شپږ میاشتني، یو کلن او دوه کلن پروګرامونه لری.
- دا کالجونه په حقیقت کې د پوهنتونونو لوړو او تخصصي زده کړو ته یو اسانه او ارازنه لار ده.

## د کالج فیس

- په زیاترو ایالتونو کې وریا ټولنیز کالجونه شته چې بېلابېل علمي پروګرامونه لري.
- دا کالجونه د مالي مرستو ځانګړي پروګرامونه هم لري چې د ښوونځیو فارغان ورته غوښتنلیک سپارلی شي او د منظورۍ په صورت کې تري ګټنه کولای شي.



## په کالجونو کې کومې رشتې لوستل کېږي؟

- هنرونه او انساني علوم
- نرسینګ
- د کاروبار مدیریت او اداره
- کمپیوټر ساینس
- جنايي او جزایي حقوق
- د اړیکو او معلوماتو هنر

## نوملیکنه

- د استوګنې اثباتیه سند
- د مالي مرستې تر لاسه کولو لپاره غوښتنلیک
- ستاسې د تحصیلي سطحې معلومولو لپاره په ازموینه کې ګډون
- په ټولګي کې نوملیکنه

# کډوال او کالج

## د کډوالۍ وضعیت

- سند لرونکي کډوال: هغه محصلین چې د ټولنیز خوندیتوب شمېره Social Security Number یا هم د کډوالۍ د ثبت شمېره (هغوی چې ګرین کارت لري) باید کالج ته د خپل کډوالۍ وضعیت د ښودنې په پار وړاندې کړي..
- بې اسنادو کډوال: په زیاترو ایالتونو کې بې اسنادو کډوالو ته اجازه نه ورکوي چې کالج یا پوهنتون ته داخل شي. خو په ځینو نورو کې د ځینو لکه د DREAM قانون په څېر قوانینو له مخې ټولو کډوالو ته (اسناد لرونکي او بې اسناده کډوال) د ایالت د نورو اوسېدونکیو په څېر یو ډول مدني حقوق (چې د زده کړو حقوق) هم په کې شامل دي، ورکوي په دغسې ایالتونو کې بیا د ټولنیز خوندیتوب شمېرې یا هم د کډ،ال د ثبت شمېرې ته اړتیا نشته.

## د کالج اړتیاوې

- د پخواني تحصیل د سند ارایه کول،
- اړینې ازموینې: SAT/ACT
- TOEFL/IELTS: نړیوال زده کوونکي چې کله غواړي د متحده ایالاتو په پوهنتونونو یا کالجونو کې زده کړې وکړي، نو دوی اړ دي چې د TOEFL یا IELTS ازموینو له لارې ثابته کړي چې دوی له انګلیسي ژبې سره اشنایي لري او کالج یا پوهنتون پرې ویلای شي. خو که چېرې دوی له یو داسې ښوونځي څخه فارغ وي چې د تدریس ژبه یې انګلیسي وي، بیا د یادو ازموینو اړتیا نشته.

## د ښځو لپاره د ملاتړ پروګرامونه

- په زیاترو کالجونو کې د دویمې ژبې په توګه د انګلیسي ژبې د زده کړو پروګرامونه شته دي چې د کالج د نورو رشتو زده کوونکیو سره د انګلیسي ژبې په زده کړه کې کومک کوي.
- قانوني ملاتړ: ځینې بنسټونه او ادارې شته لکه United We Dream او Immigrants Rising، دوی له هغو زده کوونکیو سره چې هېڅ تحصیلی سند نه لري، مرسته کوي چې څنګه کالج ته لاړ ومومي.

## مالي مرستې او بورسونه

- کډوال باید د FAFSA فورمې له لارې د مالي مرستو لپاره غوښتنلیک ارایه کړي.
- ځینې بورسونه د هغو کډوالو لپاره وي چې هېڅ تحصیلي سند نه لري.

# وروستي ټکي

- د متحده ایالاتو ښوونیز نظام د تنوع، انعطاف پذیرۍ او نوښت پر بنسټونو ولاړ دی او د زده کوونکیو د بریالیتوب لپاره بېلابېلې لارې لري.
- عمومي زده کړې د ټولو لپاره مهیا دي، او د کډوالو کورنیو او د هغوی زده کوونکیو لپاره ملاتړي سیسټمونه شته چې د کډوالو ځانګړې اړتیاوې رفع کوي او په پام کې یې نیسي.
- د لوړو زده کړو لپاره همم پراخ فرصتونه شته دي، له ټولنیزو کالجونو څخه نیولې تر ایالتي پوهنتونونو پورې چې دا ټول د شخص په فردي او مسلکي رشد کې کومک کوي.
- د مور و پلار لاسنیوی، ګډون او تعقیب ډېر مهم رول لري چې له امله یې شوني ده زده کوونکي خپلو تحصیلي هیلو ته ورسېږي.
- د مالي ملاتړ لپاره بېلابېلې سرچینې او پروګرامونه شته دي چې له کومې توپیر څخه پرته ټول ترې ګټه اخیستلی شي.

# نوري سرچيني

**Fellowship Scholarship**

- **Immigrants Rising** (n.d.) *Applying for scholarships and fellowships*. Available at: https://immigrantsrising.org/resource/applying-for-scholarships-and-fellowships/ (Accessed: 28 January 2025).

**The University of Washington ( Undocumented students can apply to this university )**

- **Immigrants Rising** (n.d.) *Applying for scholarships and fellowships*. Available at: https://immigrantsrising.org/resource/applying-for-scholarships-and-fellowships/ (Accessed: 28 January 2025).

- ttps://www.tacoma.uw.edu/admissions/daca-undocumented-students

# References:


1. Parents.com. (n.d.). Preschool curriculum: What kids learn in preschool. Retrieved January 17, 2025, from https://www.parents.com/preschool-curriculum-what-kids-learn-in-preschool-8622368

2. U.S. Department of Education, National Center for Education Statistics (2023). *Private School Data: 2021–22 Survey Results*. Available at: https://nces.ed.gov (Accessed: [insert date]).

3. LeapScholar (n.d.) *Education System in the USA: Understanding the Schooling System in the USA*. Available at: https://leapscholar.com/blog/education-system-in-the-usa-understanding-the-schooling-system-in-the-usa/ (Accessed: [insert date]).

4. USAHello (n.d.) *Public Schools in the USA*. Available at: https://usahello.org/education/children/public-school/ (Accessed: [insert date]).

5. Uncommon Schools (n.d.) *FAQ*. Available at: https://uncommonschools.org/faq/ (Accessed: [January 25, 2025]).

6. Immigrants Rising (n.d.) *Applying for scholarships and fellowships*. Available at: https://immigrantsrising.org/resource/applying-for-scholarships-and-fellowships/ (Accessed: 28 January 2025).

7. Washington Student Achievement Council (WSAC) (n.d.) *Resources for immigrant students*. Available at: https://wsac.wa.gov/immigrants (Accessed: 28 January 2025).

8. National Science Foundation (NSF), 2025. *Elementary and Secondary Education: Parental Involvement in Education*. Available at: https://www.nsf.gov/nsb/sei/edTool/data/primary-01.html [Accessed 18 February 2025].

منته

پای

King County

PORSESH POLICY
RESEARCH INSTITUTE
Fact-based Analysis & Solutions

Contact Number: 206-613-9926

Email Address: info@prresearch.us

@porseshresearch